احسان الله آرینزی

2015/14/06

افریقا Africa
(لویه وچه – قاره – براعظم)

د نړۍ هېنداره

افریقا Africa له آسیا او امریکا څخه وروسته د نړۍ دریمه لویه وچه ده. لویه وچه (آسیا، افریقا، اروپا، امریکا او اوقیانوسیه) د نړۍ هغه وچې دي چې په طبیعي توګه یو له بل څخه لږ جلا او لیرې پرتې دي. انترکتیکا یا قطب د ځمکې کنګل برخه ده چې دایمي استوګن نه لري. دلته به د افریقا د لویې وچې پېژندنه په لاندې دوو جلا – جلا (طبیعي) او (انساني) برخو کې وړاندې شي :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

الف – طبيعي جغرافيه

جغرافيايي موقعيت: افريقا د شمالي عرض البلد د °20 – °37، د جنوبي عرض البلد د °34 – °51 د لويديځ طول البلد د °17 – °35 او د ختيځ طول البلد د °25 – °51 تر منځ موقعيت لري . په بله وينا د افريقا تر ټولو شمالي برخه د تونس په شمال کي، سپينه څوکه (دماغه) Cape Blanc ده چي د شمالي عرض البلد د °20 - °37 سره سمون خوري او تر ټولو جنوبي برخه يي د جنوبي افريقا په جنوب کي، د اګولهاس څوکه (دماغه) Cape Agulhas ده چي د جنوبي عرض البلد له °34 – °51 سره برابره ده. د افريقا تر ټولو ختيځه برخه د سوماليا په هېواد کي د ګاردا فوي څوکه Cape Guarda Fui ده چي د ختيځ طول البلد له °25 –°51 سره سمون لري او تر ټولو لويديځه برخه د سنيګال لويديځ لور ته د اتلانتيک په سمندر کي د کيپ وردي Cape Varde هېواد دی چي د لويديځ طول البلد په °17 - °35 کرښه باندې پروت دي .

پراخوالی: د (نړۍ هېنداره) د آسيا او اوقيانوسيه (استراليا) په لومړيو او دوهمو کتابونو کي د ټولي نړۍ او پنځو لويو وچو پراخوالی (مساحت) د Km² په حساب راغلی او ليکل شوی چي په دې ارقامو کي وچي ځمکي په پام کي نيول شوي او دا هم ويل شوي چي له بده مرغه دا ارقام په بېلابېلو اخځونو او منابعو کي يو شان نه دي او توپيرونه لري.

د مثال په توګه Mapsotworld.com د نړۍ د بېلابېلو لويو وچو مساحت داسي ليکي:

1. آسيا Km² 44579000 - 46 هېوادونه
2. افريقا Km² 30420000 - 54 هېوادونه
3. امريکا Km² 47549000- 35 هېوادونه
4. اروپا Km² 10180000 - 47 هېوادونه
5. استراليا Km² 8536716 -14 هېوادونه
6. انترکتيکا (قطب) Km² 14000000
7. ټوله نړۍ Km² 155264716 - 196 هېوادونه

نوټ: امريکا اصلاً درې برخي لري. شمالي، جنوبي او منځنۍ. د شمالي او منځنۍ امريکا پراخوالی چي 23 هېوادونه لري Km² 29709000 او د جنوبي امريکا (12 هېوادونه) 17840000 دی.

Wikipedia.com پاسني ارقام په دې ډول راوړي:

1. آسيا Km² 43820000 يا 16920000 ميل مربع - د ځمکي 29.5%
2. افريقا Km² 30370000 يا 11700000 ميل مربع - د ځمکي 20.4%
3. شمالي امريکا Km² 24490000 يا 9460000 ميل مربع - د ځمکي 16.5%
4. جنوبي امريکا Km² 17840000 يا 6890000 ميل مربع - د ځمکي 12.0%
5. اروپا Km² 10180000 يا 3930000 ميل مربع - د ځمکي 6.8%
6. اوقيانوسيه Km² 9008500 يا 3748000 ميل مربع - د ځمکي 9.2%
7. انترکتيکا Km² 13720000 يا 5300000 ميل مربع - د ځمکي 9.2%

ټوله نړۍ Km² 148647000 يا 57393000 ميل مربع

يوې بلې معتبره منبع World Almanac 2013 همدا ارقام داسي ثبت کړي دي:

1. آسيا Km² 31119378
2. افريقا Km² 29641857
3. امريکا Km² 40511762
4. اروپا Km² 22167994

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

5. اوقیانوسیه 8490074 Km²
6. انترکتیکا 14000000 Km²

ټوله نړۍ 146012065 Km²

داسې نور ارقام هم شته چې له پاسنیو سره توپیر لري. همدا دری اخځونه ښیي چې یو د ځمکې پراخوالی 155264716km²، دوهم 148647000 Km² او دریم 146012065 Km² ثبت کړی دی. د جغرافیې د استادانو په وینا ځینو اخځونو د هېوادونو د وچې د حدودو اندازې اخستې، په داسې حال کې چې ځنې نور ساحلي اوبه هم په پراخوالی کې راولي او په دې توګه یو له بله متفاوت ارقام وړاندې کوي.

موږ د نړۍ هېنداره د آسیا او اوقیانوسیه په کتابونو کې د نړۍ د پنځو وچو پراخوالی 139640387 Km² نیولی. که انترکتیکا (14000000 Km²) هم له دې سره یو ځای کړو، 153640378 Km² کیږي چې بیا هم له پاسنیو دریو اخځونو سره توپیر لري.

د دې له پاره چې د هر ډول سوء تفاهم مخه ونیول شي، د نړۍ هېنداري په راتلونکو دریو کتابونو (افریقا، اروپا او امریکا) کې به د Wikipedia ارقام په پام کې ونیسو چې له ډېرو معتبرو اخځونو سره سمون یا نژدیوالی لري.

په دې حساب د نړۍ د وچو پراخوالی 148647000 Km² او د افریقا 30370000 Km² یا11700000m² کیږي چې د ټولې نړۍ 20.4% کیږي او 54 هېوادونه لري. ناویلي دې پاته نه وي چې د ټولې نړۍ پراخوالی 512037240Km² یا 196937400 میل مربع دی. په دې حساب پنځو لویو وچو د ځمکې 29.1% برخه نیولې او پاته اوبه دي.

څلور خواوې :

شمال : د مدیترانې سمندرګی

جنوب : د اتلانتیک (اتلس سمندر)

ختیځ : د هند سمندر او سور سمندرګی

لویدیځ : د اتلانتیک سمندر او د ګینې خلیج .

لوی غرونه : د افریقا ډېره ځمکه ډاګونو او ځنګلونو نیولې ده . له همدې امله افریقا د غرونو د لویو لړیو د شته والي له پلوه، له آسیا سره نه شي پرتله کېدای . د دغه لویې وچې ډېر غرونه په ختیځه افریقا کې موقعیت لري چې دوه لړۍ لري:

1- د کینیا او یوګندا په سرحدي سیمو کې د ابروکارو Aborcaro لړۍ چې د سمندر له سطحې څخه 4000m لوړوالی لري. د مایومایو نامتو قبیله د همدې غرونو په درو کې استوګن دي. د رونزواي Rovenzorie لړۍ چې 130km اوږدوالی او 40Km پلنوالی لري او څوکې یې تل په واورو پټې وي، تانګانیکا ته نژدې.
2- اورغورځونکي ټیټ غرونه لکه کوندو Condo او روکو Roko د نیاسا د سمندرګي په شمال کې چې له شمال څخه جنوب ته غځېدلي او لوړه څوکه یې نګرو نګرو Ngrongro نومېږي. دا غرونه منفرد پراته دي، له همدې امله د هوایي څپو او بهیرونو مخه نه نیسي.
له ختیځې افریقا پرته د دغه لویې وچې نامتو غرونه یا د غرونو لړۍ دا دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

1 – د اتلس غرونه : د افریقا په شمال لویدیځ کي د اتلس غرونه او د هغوی متوازي ساحلي لړۍ، د دغه لویي وچي د ستر ډاګ (صحرای اعظم) او د مدیتراني د سمندرګي تر منځ پراته دي.

2 – د ګیني غرونه : دا لړۍ د ګیني د خلیج په شمال کي له ساحل سره موازي پرتي دي . د افریقا په لویدیځه برخه کي فوتاجالون د دې لړۍ تر ټولو جګ غرونه بلل کیږي .

3 – ختیځ غرونه : دا غرونه د افریقا په ختیځ کي له شمال څخه جنوب ته له مصر څخه پیلیږي . په لومړي سر کي دا غرونه ډېر جګ نه دي خو ورو – ورو یي جګوالی د اتوپیا په برخه کي زیاتیږي . د کینیا او کلیمانجارو لوړې څوکي په همدې برخو کي موقعیت لري . د دې غرونو د موازي لړیو په منځ کي د ویکتوریا په شان غټ سمندرګی جوړ شوی. که آسیا د سمندر له سطحي څخه په منځنی توګه 960m جګه پرته ده، د افریقا منځنی جګوالی 750m دی . سره له دې چي د افریقا په ځینو جګو غرنیو برخو کي هوا سړه ده؛ خو د شمالي امریکا او یا آسیا (سایبریا، پامیر او هندوکش) په شان ډېرې سړې سیمي په افریقا کي نه میندل کیږي.

لوړې څوکي :

1	د کلیمانجارو څوکه	د کلیما نجارو په غرونو کي	تانزانیا	6010m
2	د کینیا څوکه	د کینیا په غرونو کي	کینیا	5240m
3	د مارګریت څوکه	د یوګندا او کینیا په غرونو کي	یوګندا او کینیا	5122m
4	د راس داشان څوکه	د ایتوبیا په غرونو کي	ایتوپیا	4622m
5	د کولو څوکه	د تي بستي په غرونو	چاد	4300m
6	د توبکال څوکه	د اتلس په غرونو کي	مراکش	4107m
7	د کامرون څوکه	د کامرون په غرونو کي	کامرون	4071m
8	د الګون څوکه	د کینیا په غرونو کي	کینیا	4009m
9	د امي کوسي څوکه	د تي بسي په غرونو کي	چاد	3450m
10	د جبل مارا څوکه	د دارفور په غرونو کي	سودان	3140m

مهم سیندونه : د اوبو د شبکو غزیدنه او څرنګوالی د هرې سیمي په زمکني جوړښت او اقلیم پورې اړه لري . د افریقا په ډېرو هېوادونو کي د هوا د تودښت او د لندبل د زیاتوالي له امله ډېر ورښت کیږي. د دغه ورښت له امله په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

افریقا کې غټ سیندونه بهیږي چې ځنې یې د تندوالي له امله، د بیړۍ د چلولو له پاره ډېر مناسب نه دي؛ خو د بریښنا د تولید له پاره خورا ګټور بلل کیږي . دافریقا اوږده سیندونه دا دي :

1	نېل	مصر	د مدیترانې سمندرګې ته ورځي	6500km
2	کانګو	کانګو	د اتلانتیک سمندر ته ورځي	4845km
3	نایجیر	نایجیریا	د اتلانتیک سمندر ته ورځي	4160km
4	زامبزي	زمبیا	د هند سمندر ته ورځي	4160km
5	اورانژ	جنوبي افریقا	د اتلانتیک سمندر ته ورځي	4860km
6	لیم پوپو	جنوبي افریقا	د هند سمندر ته ورځي	1600km
7	اوبانکي	د مرکزی افریقا جمهوریت	د کانګو سیند ته ورځي	1500km
8	کاسایي	کانګو	د کانګو سیند ته ورځي	1400km
9	کوبانګو	انګولا	په ډاګ کې ډوبیږي	1300km
10	سنیګال	سنیګال	د اتلانتیک سمندر ته ورځي	1200km

ولاړې اوبه (جهیلونه) :

1	ویکتوریا . د یوګندا، تانزانیا او کینیا تر منځ. پراخوالی $68800km^2$ او ژوروالی 89m (د افریقا تر ټولو لوی جهیل).
2	نیاسا (ملاوي)، د تانزانیا او موزمبیق تر منځ $611000km^2$. ژوروالی 706m
3	تانګانیکا . د تانزانیا، زمبیا او د کانګو (ج) تر منځ $31900km^2$. ژوروالی 1435m
4	چاد . د چاد، نایجیریا او نایجیر تر منځ $6500km^2$
5	بانګ ولو Bangvulu په زمبیا کې $100km^2$

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

6	ماکاري کاري په بوتسوانا کې .
7	مورو Mweru، د رواندا او کانګو (ج) تر منځ .
8	البرت په یوګندا کې، ژوروالی 680m
9	تانا په ایتوپیا کې
10	ناګویي بین په مالي کې

ټاپوګان : افریقا ډېر ټاپو ګان نه لري . د دغه لویې وچې په لویدیځ او جنوب ختیځ کې دغه ِغټ ټاپوګان پراته دي :

1 – مدغاسکر، د افریقا په جنوب کې (د افریقا تر ټولو لوی ټاپو)؛

2 – ریونیون، د مدغاسکر په ختیځ کې ؛

3 – موریشس، د ریونیون په ختیځ کې ؛

4 – زنګبار، د افریقا په ختیځ کې ؛

5 – پمبا Pemba، د زنګبار په شمال کی؛

6 – فرناندویو، د افریقا په لویدیځ کې ؛

7 – سنت هلن، د افریقا په لویدیځ کې؛

8 – اسنسیون Ascension، د سنت هلن په شمال کې؛

9 – لوی کاناري، د افریقا په شمال لویدیځ کې ؛

10 – لاس پالماس Laspalmas، د افریقا په شمال کې؛

11 – ساوتومي Sao tame د افریقا په لویدیځ کې؛

12 – پرنسیپي Principe، د افریقا په شمال کې ؛

13 – موروني Moroni، د افریقا په ختیځ کې؛

ټاپو وزمې: افریقا دري ټاپووزمې لري:

1 – سومالیا، د افریقا په ختیځه برخه کې؛

2 – تونس، د تونس په شمال کې (د افریقا شمالي څنډه) ؛

3 – سینا، په مصر کې، د افریقا په شمال ختیځه برخه کې ؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ټاپوګانو ټولګي : افریقا د آسیا په شان د ټاپوګانو داسي ټولکي نه لري چې له ډېرو ټاپوګانو څخه جوړ شوی وي . له دې سره سره د ټاپوګانو دغه ټولګي د یادولو وړ دي:

1 – کاناري، د افریقا په شمال لویدیځ کې؛

2 – مادیرا Madeira، د کاناري په شمال کې ؛

3 – کیپ وردي Cape varde، د افریقا په ختیځ کې ؛

4 – سیشلز Seychelles، د افریقا په ختیځ کې ؛

خلیجونه : د افریقا سواحل ډېر غوڅوالی نه لري، له همدې امله دغه لویه وچه لږ خلیجونه لري چې دا څو د یادولو وړ دي :

1 – د عدن خلیج، د افریقا په شمال ختیځ کې (دغه خلیج په آسیا کې هم حساب دی) ؛

2 – سوفاتا، د افریقا په حنوب ختیځ کې ؛

3 – دلاګوا، د افریقا په حنوب ختیځ کې؛

4 – هلنا، د افریقا په جنوب لویدیځ کې ؛

5 – والویس walvis ، د افریقا په جنوب لویدیځ کې؛

6 – ګیني، د افریقا په لویدیځ کې (د افریقا تر ټولو لوی خلیج)؛

7 – سیدرا Sidra ، د افریقا په شمال کې ؛

8 – قابص، د افریقا په شمال کې؛

9 – تونس، د افریقا په شمال کې.

سمندرګي :

1 – د مدیترانې سمندرګي (چې له اروپا سره په ګډه پوله پروت دی) ؛

2 – سور سمندرګي (چې له آسیا سره په ګډه پوله پروت دی) ؛

3 – د موزمبیق سمندرګي چې هغه ته د موزمبیق کانال هم وایي؛

4 – د عدن سمندرګي چې هغه ته د عدن خلیج هم وایي ؛

تنګي لارې : په افریقا کې هغه طبیعي یا جوړې شوې تنګي لارې چې دوه سیندونه یا دوه سمندرونه سره نښلوي دا دي :

1 – د سویز کانال چې د مدیترانې سمندرګی له سره سمندرګي سره تړي (جوړ شوی) ؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

2 – باب المندب چې سور سمندرګي د عدن له خلیج سره تړي (طبیعي) ؛

3 – د موزمبیق کانال چې د مدغاسکر په لویدیځ کې د هند د سمندردوه برخې سره یو ځای کوي (طبیعي) ؛

4 – جبل الطارق چې د مدیترانې سمندرګي او د اتلانتیک سمندر سره نښلوي (طبیعي) ؛

سمندرونه : د نړۍ دوه ستر سمندرونه د افریقا د لویې وچې دوو خواوو ته پراته دي :

1 – د هند سمندر په ختیځ کې؛

2 – د جنوبي اتلانتیک سمندر (اتلس) په لویدیځ کې ؛

اقلیم : د استوا کرښه د افریقا په منځنۍ برخه کې له ختیځ څخه لویدیځ ته (سومالیا، کینیا، یوګندا، کانګو جمهوریت، کانګو دیموکراتیك جمهوریت او ګابون) تېره شوې ده . داسې ښکاري چې د افریقا ډېرې شمالي او جنوبي برخې، د استوا له کرښې څخه په مساوي واټن کې پرتې دي . د افریقا ډېره شمالي برخه له استوا څخه 2580km او ډېره جنوبي سیمه 2400km واټن لري او شمالي، جنوبي قطر یې له ختیځ – لویدیځ قطر سره برابر دی. د افریقا په شمالي سیمه کې د راس السرطان مدار د مصر، لیبیا، الجزایر، مالي، موریتانیا او د صحرا له عربي دېموکراتیک جمهوریت څخه تېریږي، همدا راز د راس الجدي مدار د افریقا په جنوبی برخه کې د مدغاسکر، موزمبیق، جنوبي افریقا او بوتسوانا له هېوادونو څخه تیریږي .

د افریقا د هغه سیمو هوا چې د استوا د کرښې دواړو خواوو ته پرتې دي حاروي یا داسې سوزنده ده چې لندبل یې ډېر دی. په دغه سیمه کې ډېر ورښت کېږي . د افریقا تر ټولو غټ سیندونه لکه نیل، کانګو او زامبزي د همدې سیمو له جګو غرنیو برخو څخه سرچینه اخلي. د دغه لویې وچې شمالي او جنوبي برخې نژدې یو شان اقلیم لري . دلته هوا په اوارو سیمو کې توده او لږ لنده او په ډاګونو کې توده او وچه ده او دا ځکه چې د اتلس غرونه په شمال لویدیځ، د ایتوپیا لوړه سطحه په ختیځ او د دراګنسبرګ غرونه په جنوب کې، دغه سیمو ته د لندو سمندري بادونو د رسېدلو مخه نیسي. د افریقا ختیځو سیمو ته د هند سمندر موسمي بادونه رسېږي . د افریقا په سوزنده ډاګونو کې داسې تاوده او وچ توفانونه الوزي چې د خمسین په نامه یادېږي .

په افریقا کې د استوا د کرښې د شا او خوا سیمو د کلنی تودوخې منځنی درجه 30C° ثبت شوې ده . په افریقا کې تر ټولو توده سیمه چې په حقیقت کې د ټولې نړۍ ډېره توده سیمه هم بلل کېږي، د لیبیا په شمال لویدیځ کې عزیزا Aziza نومېږي چې تودوخه یې د سانتیګرد 58° ته هم رسي.

د ټولې اقریقا د ورښت منځنی اندازه لږ ده . په افریقا کې ورښت له لویدیځ څخه ختیځ لور ته کمیږي. یوازې د استوا د کرښې شا او خوا ته کال دوولس میاشې باران اوري . د دغه کرښې شمال او جنوب ته د هوا لندبل او ورښت ورو-ورو کمیږي . د افریقا د بېلا بېلو سیمو د زړښت منځنی کلنی اندازې داسې دي :

1 – ډاګونه 25mm

2 – د اتلس غرونه او د سودان شمالي سیمې 250 – 500mm

3 – د افریقا شمالي، ختیځې او لویدیځې ساحلي سیمې 500 – 1000mm

4 – د کامرون لویدیځ سواحل 1100mm

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

5 – د سودان جنوبي خواوې، کانګو او د ایتوپیا لوړه سطحه 2000mm – 1000

6 – د افریقا ختیځې ساحلي سیمې او د ګیني خلیج 4000mm

د افریقا په ډېرو جګو برخو کې واوره اوري . د دغه لویې وچې په یوه کوچنۍ شمال لویدیځه برخه کې مدیترانه اې معتدله هوا هم چلېږي .

په عمومي توګه افریقا د هوا او اقلیم له پلوه لاندې بېلې سیمې لري:

1- استوایي: په ټول کال کې ډېره تودوخه او لندبل. د استوا کرښې ته نژدې سیمې چې منځۍ تودوخه کال دوولس میاشتې نژدې د سانتیګراد 30 درجې او لندبل لوړ وي. دا سیمه درې ځانګړې ځایونه لري:

1/1 – د مرکزي افریقا هوا یا د کانګو د سیند د حوزې هوا چې ورښت له 1570mm څخه لوړ دی او هر ورځ اوري. سپین پوستي دلته اوسېدلی نه شي.

1/2 – ګینه ای هوا: تودوخه د کانګو د سیند د حوزې په پرتله ډېره ؛ خو ورښت په دوبی کې ډېر وي. په کامرون کې په کال کې پنځه متره ورښت کیږي. سپین پوستي دلته هم ډېر نه شي پاته کېدای. دا سیمه په ګڼو ځنګلونو پوښلې ده.

1/3- ختیځه افریقا. د ځمکې لوړوالی دلته تودوخه ټیټه ساتي. د مثال په توګه په نایروبي کې چې د استوا په کرښه موقعیت لري، کلنۍ منځنۍ تودوخه د سانتیګراد 25 درجې ده او ورښت لږ دی. هغه بادونه چې د هند د سمندر له خوا الوزي، د افریقا د ستر سیند (نیل) اوبه راپورته کوي. دغه سیمه شنې او پراخه ورشوګانې لري.

2- سوداني هوا: په ټول کال کې هوا توده (د سانتیګراد تر 50 درجو پورې) ده، د ورځې او شپې هوا توپیر ډېر او ورښت د 1250mm - 250 تر منځ. دا د سوداني هوا د سیمې ځانګړتیاوې دي. ورښت د استوا له کرښې سره په نژدیوالي یا لیري والي پورې اړه لري. له استوا څخه په لیرو سیمو کې منځنۍ کلنۍ ورښت 250mm ثبت شوی دی. دا سیمه لږ ځنګلونه، ډېر څرځایونه او ښې کرنیزه ځمکې لري.

3- د ډاګونو هوا: د افریقا ډاګونه خورا نوموتي دي. تودوخه له 50C° څخه لوړه او د ورځې او شپې د تودوخې توپیر لږ دی. ورښت د تودوخې له امله تبخیر کیږي او ونې او بوټي نه پکې شنه کیږي .د استوګنې سیمه نه ده، یوازې د خرما ونه (نخل) په دې سیمه کې مقاومت کولای شي.

4 – د سواحلو هوا (ساحلي ډاګونه او سیمې): دلته د سمندري څپو او بهیرونو له امله لندبل ډېر او تودوخه لږ ده او خلک پکې اوسېدی شي.

5- سمندري هوا: د افریقا شمالي، جنوبي، ختیځې او جنوب ختیځې ساحلي سیمې سمندري هوا لري. ژمی هوا معتدله او لندبل مناسب وي؛ خو دوبي وچ او تاوده وي. لکه د مدیترانې شا او خوا سیمې چې د استوګنې او کر له پاره خورا مناسبې دي او ښه لمرین تاوده دوبي لري.

نورې جغرافیایي ځانګړتیاوې : افریقا په خپله شمال ختیځه څنډه کې پخوا له آسیا سره نښتی وه؛ خو کله چې د سویز کانال د مدیترانې سمندرګی له سره سمندرګي سره وتاړه، د افریقا او آسیا تر منځ زمکنی تړاو پرې شو . همدا راز له سره سمندرګي سره د عدن د خلیج د یو ځای کېدلو په ځای کې، د باب المندب تنګي (18km) هم د افریقا او آسیا لویې وچې یو له بل څخه جلا کړي دي. ها خوا د افریقا په شمال لویدیځه څنډه کې د جبل الطارق تنګی Gebralter

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(14km) افریقا له اروپا څخه بېلوي . په دې توګه وینو چې د افریقا لویه وچه له څلورو خواوو څخه اوبو کلابنده کړې ده .

افریقا له ډېرې شمالي څوکې څخه تر جنوب پورې 8000km اوږدوالی او له ډېرې ختیځې څوکې څخه تر لویدیځ پورې 7400km پلنوالی لري .

د افریقا ساحلي څنډې ډېر غوڅوالی نه لري . له همدې امله دغه لویه وچه د آسیا او شمالي امریکا په شان، غټ خلیجونه او ډېرې ټاپووزمې نه لري . د افریقا منځنۍ برخه له داسې اوارو ځمکو څخه جوړه شوې چې شا او خوا یې له ختیځ لوري څخه جګ غرونه پراته دي . د افریقا د پراخه منځنیو ډاګونو شا او خوا داسې کرنیزه ځمکې پرتې دي چې د دغه لویې وچې د سترو سیندونو په واسطه خړوبېږي .

افریقا د آسیا په شان د ځمکو د ټیټوالي یا جګوالي له پلوه په لاندې پنځو سیمو وېشل کېږي:

الف : د شمالي افریقا سیمه : د اتلس غرونو دغه ساحلي سیمه نیولې ده . دا غرونه له تونس څخه پیل کېږي او له ختیځ لوري څخه لویدیځ ته د الجزایر او مراکش په شمالي سیمو کې پراته دي . دا غرونه د اسپانیا او پرتګال د غرونو لړۍ بلل کیږي چې له اوبو څخه بیا سر پورته کوي.

ب: د افریقا د ډاګونو سیمه: د افریقا ډېره شمالي برخه چې د نیل د سیند له لویدیځې برخې څخه پیل کېږي او د اتلانتیک په سمندر پای ته رسي، ډاګونو نیولې ده. په بله ژبه د مصر، لیبیا، سودان، الجزایر، نایجیر، موریتانیا او مالي هېوادونو ځنې برخې داسې ډاګونو نیولې چې هوا یې سوزنده توده ده. ځنې دغه ډاګونه دا دي:

1 – د مراکش په جنوب کې درا Dera؛

2 – د مالي په شمال کې جوف یا جنوبي ډاګ؛

3 – د موریتانیا په شمال کې ایګیدي Igidi ؛

4 – د الجزایر په شمال کې (ختیځ لوی ارګ Great Erg) او په جنوب کې (لویدیځ لوی ارګ) ؛

5 – د تونس په جنوب کې حماد الحمرا؛

6 – د لیبیا په شمال کې فزان Fezzan او په ختیځ کې د لیبیا ستر ډاګ ؛

7 – د مصر په لویدیځ کې د لیبیا ستر ډاګ ؛

8 – د سودان په شمال او د مصر په جنوب کې نوبه ؛

همدا راز دلته د شیخ، اوباري، د مرزق، تیستي او ختیځ ډاګونه د یادولو وړ دي.

ج - د منځنۍ افریقا سیمه : د استوا د کرښې دواړه خواوې، د افریقا حاره سیمه یا د ځنګلونو او کرنې سیمه. دا سیمه بیا په دریو برخو وېشل کېږي . د استوا د کرښې شمالي ځمکې، د استوا د کرښې جنوبي ځمکې او د دواړو په منځ کې استوایي ځنګلونه . دغه سیمه ډېر او جګ غرونه نه لري . شمالي ځمکې د ایتوپیا د غرونو له لویدیځو برخو څخه پیل کېږي او د اتلانتیک تر څنډو پورې د ایتوپیا، سودان، چاد، نایجیریا، مالي، موریتانیا، بوروکینافاسو، مرکزي افریقا،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نایجیریا، بینین، توګو، ګانا، د عاج ساحل، ګیني، سیرالون، لایبریا، سنیګال او ګمبیا په هېوادونو کې پرتې دي . د ګیني په ختیځو سیمو کې د نیمبا Nimba غرونه د دغه برخې جګ غرونه بلل کېږي .

د استوا د کرښې جنوبي ځمکې د موزمبیق د غرونو له لویدیځ څخه پیل او د افریقا تر جنوب لویدیځو برخو پورې رسي. د کانګو (ج)، انګولا، د بوتسوانا شمالي سیمې، نامیبیا، زمبیا او د جنوبي افریقا شمالي سیمې په دې برخه کې راځي . د دغې برخې له شمال څخه جنوب ته کرنیزه ځمکې ورو – ورو په ډاګونو بدلېږي، لکه په بوتسوانا کې د کالاهاري ډاګ .

د دې دواړو برخو تر منځ د کانګو (د ج)، کامرون او د نایجیریا، بینین، توګو، ګانا، د عاج ساحل، لایبریا او سرالیون جنوبي سیمې په ګڼو ځنګلونو پوښلې دي . دغه ګڼ ځنګلونه د کانګو په ختیځ کې د (روون زوري) له غرونو څخه پیل او د اتلانتیک په سمندر پای ته رسي . په لویدیځ کې د دې ځنګلونو ګنوالی ورو – ورو کمېږي .

د - د ختیځې افریقا سیمه : دغه غرنی سیمه په شمال ختیځ کې، له مصر څخه پیل او تر جنوبي افریقا پورې پرته ده . د ایتوپیا، کینیا، تانزانیا، یوګندا، رواندا، بوروندي او موزمبیق غرونه (د افریقا د تر ټولو جګو څوکو کلیمانجارو او کینیا په ګډون) په دې سیمه کې پراته دي . د دې موازي غرونو په منځونو کې د وکتوریا، نیاسا او تانګانیګا جهیلونه منځ ته راغلي دي .

ه - د جنوبي افریقا سیمه : دا سیمه هم غرنی ده . دې غرونو د دې سیمې جنوبي، جنوب ختیځې او جنوب لویدیځې برخې پوښلې دي . د دراکنسبرګ Drakensberg غرونه په همدې سیمه (د جنوبي افریقا ختیځه برخه) کې پراته دي .

ب – بشري جغرافیه

نفوس : د نړۍ له 7168571228 نفوس (2013/07/31) څخه 710529592 نفر یا 14.82% په افریقا کې میشت دي . د افریقا په هر km^2 خاوره کې په منځنۍ توګه 25 کسان ژوند کوي . دا رقم په اروپا کې 73 او په آسیا کې 79 کسان دي . ښکاره خبره ده چې د دې لویې وچې په بېلا بېلو برخو کې د نفوس هستیدنه یو شان نه ده . هلته چې هوا ښه او ځمکه پریمانه ده یا په اقتصادي او سیاسي مرکزونو او بندري سیمو کې ډېر خلک اوسي . په افریقا کې ډېر خلک د مدیتراني او د ګیني د خلیج په ساحلي سیمو، د سره سمندرګي او د لویې وچې په جنوب ختیځو سواحلو او د سیندونو په شا او خوا کې استوګن دي . د دغه لویې وچې د ډاګونو او ځنګلونو په $10km^2$ سیمه کې حتی یو انسان هم ژوند نه کوي .

په افریقا کې د وګړو د شمېر له پلوه دوه غټ هېوادونه نایجیریا او مصر او دوه کوچني هېوادونه ساوتومي او پرنسیپي او سیشلز دي .

د دې له پاره چې ګران لوستونکي د ټولې نړۍ د نفوسو په هکله معلومات ولري، دې جدول ته دې وګوري:

لویه وچه (قاره)	نفوس 2013 / 07 / 30	په نړۍ کې سلنه
آسیا	4301142737	60
افریقا	1075285684	15

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکا	974925687	14
اروپا	788542835	11
اوقیانوسیه(استرالیا)	28674285	0.4
انترکتیکا	0	0
ټوله نړۍ	7168571228	100

انساني ټولنې : د افریقا د لویې وچې 64% اوسېدونکي تورپوستي دي . له دې وروسته عرب د افریقا د لویې وچې غټه انساني ټولنه جوړوي . عرب په مصر، تونس، سودان، لیبیا، الجزایر، مراکش او سودان یا د افریقا په شمالي سیمو (لږ) کې میشت دي . تورپوستي د افریقا په جنوبي او منځنیو، منځني ختیځو او منځني لویدیځو سیمو کې تر چاد او نایجیریا پورې استوګن دي . نژاد پېژندونکی عقیده لري چې تورپوستي له دوو ډلو څخه جوړ شوی دی : سوداني او بانتو. د افریقا 66.66% تورپوستي سوداني دي چې د افریقا له شمال څخه د استوا تر کرښې پورې پراته دي. د استوا د کرښې جنوب ته (بانتوسي) اوسېږي . د افریقا په منځنیو ځنګلي او ډېرو تودو سیمو کې یوه ډله خلک خواره – واره ژوند کړي چې پیګمه یا پیګمي Pigmi بلل کېږي .

نژاد : تورپوستي 64% (سوداني 66.66% او بانتو 33.33%) عرب، ګډ خلک او لږ سپین پوستي 36% . تورپوستي د افریقا د لویې وچې خلک دي. هغه توران چې په امریکا کې اوسي، غالباً د هغه مرېیانو لمسیان دي چې څه باندې 400 کاله وړاندې اخستل شوي. د افریقا د جنوبي سیمو د ډاګونو د استوګنو رنګ ډېر تور دی. تر اوسه څوک په قطعی توګه په دې نه پوهېږي چې ولې د دې خلکو د پوستکي رنګ تور دی، ځنې نسل پېژندونکي وایي چې انسان د لومړي ځل له پاره په شمالي یا جنوبي افریقا کې منځ ته راغلي؛ خو دا موضوع تر اوسه د یوې معما بڼه لري. په هر صورت ډېر کتابونه لیکي چې توران د لومړي ځل له پاره د افریقا د تودې ډاګیزه لویې وچې په کومه سیمه کې منځ ته راغلي دي. د افریقا تورپوستي او عرب پخپلو منځونو کې په دې نژادي ډلو وېشل کېږي .

اجا، ایزو، اواچي، اکم، اچولي، اومور، امهاري، ایبي بیو، اویمبوندا، ایوي، انتالوت، اکان، اکواپم، اوامبو، اویما تساحا، بانتو (لوبا، مونګو، کانګو، رواندا، بایا، باندا، بارا، بربر، توګو، پانګ، ایشرا، اونو، اتیسو، تزیبي، کوتا، مین، باپونده، او باتیک) با کونګو، بانګبارا، بوشمن، بابورمي، باسوګو، بولالا، باګندا، بونیور، باتوبو، باګیسو، بوبو، باستر، باکه، باریبا، بیتسیلو، پاپل، پیګمه، پیول، توتسي، توکولار، توسوانا، توا، توارک، (طوارق)، توبوی، تونګا، تیکه، تمنه، جرما، جولا، چاک، چوګوی، چګان، دامارا، دوګون، دیالونګه، سندپو، سراهویي، سانګا، سومبا، ساراکوی، ساکول، سومالي، سونګای، سینا، سینوفا، سکوم، ساکالاوا، سوننکي، سارا، سرر، شانګات، عرب، فولیبه، فولا، فولبي، فولاني، کیسي، کرونګو، کرول، کونګو، کیکویو، کوتیرس، کالینجین، کوتوکولي، کاوانګوس، کیمبوندا، کوتوکو، کامبا، کانینبو، کاپرپروین، کیردي، کاتوري، کپل، کافري، کواوا، ګرونسي، ګوارما، ګاادانګب، ګولای، ګریبو، ګاګا، ګریبو، ګوان، لوهیات، لوهسا، لمب، لوما، لانګي، لوګو، لوبي، مالي، مدغاسکر، ماکاو، موشي داګومبا، مانده، میرو، مکاند، ماکوا، موسي، میرین، مینا، موبا، مبایا، منجایا، مستیکو (ګډ اروپایي – افریقایي خلک) مالینکه، مارکا، ماسا، موري (عرب شوي بربر)، ماشانتا، ماندینکه، منده، موندانګ، مبوچي، نوبه، نبلوتي، نیګریتیک، نیانجا، نګمبایا، نونګدا، نګرو، نامز، ندیبیلي، وولف، وي، هوتو، هارسا، هویرو، یاو، یورامجونګ، یوروبا او یوبانګي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دین او مذهب : په افریقا کې اسلام (تسنن) او مسیحیت (کاتولیک او پروتستانت) دوه لوی دینونه دي . پردې سربیره د بتانو او اور نمانځنه او یهودیت هم په ځینو خلکو کې شته . د افریقا یو شمېر وروسته پاتې خلک اوس هم د خپل پلار نیکه پخواني سیمه ییزه ګروهي پالي .

ژبه : د (جغرافیایي براعظم افریقا) مؤلف لیکي چې په افریقا کې څه د پاسه 700 غټې او کوچنۍ ژبې او د دې ژبو 300 بېلا بېلو ګړدودونه ژوندي دي او ویونکي لري . چې دا د یادولو وړ دي :

عربي، بانتو، سواهیلي، سانګو، فولاني، پولار، لینګالا، وولف، ماندینکه، زولو، مدغاسکري، کرولي، هکه، یوروبا، سندیبیلي، افریکانس، سوازي، سوتو، داګومبو، بربري، سي تسوانا، عفار، فانګ، امهاري چې تیګري .

سربیره په دې د افریقا ډېر خلک په انګلیسي، فرانسوي، جرمني، پرتګالي او اسپانوي ژبو خبرې کوي چې د ځینو افریقایي هېوادونو رسمي (یا د سوداګري او تعلیم) ژبې هم دي .

لوی ښارونه: افریقا ډېر ښارونه لري چې یو څو لوی یې په لاندې جدول کې راوړل کیږي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې دا نفوس په کال 2012 کې یوازې په ښارونو پورې اړه لري. که چیرته د دې ښارونو څېرمه یا نښتې کلیواله سیمې هم په پام کې ونیول شي، په دې ارقامو کې توپیر منځ ته راځي.

شماره	د ښار نوم	هېواد	نفوس
1	قاهره	مصر	7438376
2	کنشاسا	کانګو (د – ج)	6301100
3	الجزایر	الجزایر	1698000
4	ابیجان	د عاج سواحل	2906600
5	ماپوتو	موزمبیق	1088000
6	کیپ ټاون	جنوبي افریقا	2686000
7	ادیس ابابا	ایتوپیا	2638500
8	خرطوم	سوډان	4285542
9	لواند	انګولا	2193400
10	ډاکار	سینګال	2384000
11	کیګالي	رواندا	365200
12	باماکو	مالي	907000

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

13	لاګوس	نایجیریا	7181111
14	کازابلانکا	مراکش	3462700
15	الکساندریه	مصر	3693400
16	نایروبي	کینیا	2511000
17	لوساکا	زمبیا	1218000
18	دارالسلام	تانزانیا	2456000
19	تونس	تونس	697000
20	تریپولي	لیبیا	1890000
21	اکرا	ګانا	1605000
22	هراري	زمبابوي	1846000
23	پریتوریا	جنوبي افریقا	1228000
24	رباط	مراکش	1600700
25	کمپالا	یوګندا	953400
26	یائونده	کامرون	1239000
27	برازاویل	کانګو (ج)	1133800
28	موګدیشو	سومالیا	1183000
29	جاهانسبورګ	جنوبي افریقا	1456300
30	انتاناناریو	مدغاسکر	875200
31	نواکشوت	موریتانیا	426000

اخځ: www.mongabay.com (UN source)

هېوادونه: د افریقا د لویې وچې 54 خپلواکه هېوادونه د listofAfricancountries.com په حواله دا دي: انګولا، ایتوپیا، اریتریا، استوایي ګیني، الجزایر، بوتسوانا (پچوانالند)، بورکینافاسو، بېنین (داهومي)، بوروندي، تانزانیا، توګو، تونس، جنوبي افریقا (جمهوریت)، جیبوتي (عفار او عیسی)، چاد، د عاج ساحل، رواندا، زمبیا، زېمبابوي، ساوتومي او پرنسیپي، سنیګال، سوازیلند، سودان، سودان (جنوبي)، سومالیا، سیرالیون، سیشلز، صحرا (عربي دېموکراتیک جمهوریت)، کیپ وردي، کامرون، کانګو (کانګو جمهوریت، کانګو کینشاسا یا پخوانی زایر)، کانګو (کانګو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

برزاویل، د کانګو دېموکراتیک جمهوریت)، کینیا، کومورو، ګانا، ګابون، ګمبیا، ګیني، ګیني بیساو، لیسوتو، لایبریا، لیبیا، مرکزي افریقا (جمهوریت)، مدغاسکر، ملاوي (نیاسالند)، مالي، موزمبیق، مراکش (مراکو، المغرب)، مصر، موریتانیا، موریشس، نامیبیا، نایجر، نایجیریا او یوګندا .

د دې هېوادونو طبیعي، دېموګرافیکي، سیاسي، اقتصادي او تاریخي لنډه پېژندګلوي په دې کتاب کې راغلي ده . د افریقایي هېوادونو مساحت او نفوس د دې کتاب د ارقامو له مخې داسې دي :

د هېواد نوم	پراخوالی په km² کې	د پراخوالی له پلوه په نړۍ کې دریځ	نفوس 2013	دنفوسو له پلوه په افریقا کې درجه
الجزایر(الجیریا)	2381741	10	38087812	8
کانګو(د ج)	2345858	11	75507308	4
سودان	1861484	16	34847910	10
لیبیا	1759540	17	6002347	34
چاد	1284000	21	11193452	25
نایجیر	1267700	22	16899327	18
انګولا	1246700	23	18565269	16
مالی	1240192	24	159688882	20
جنوبي افریقا	1219090	25	48601098	5
ایتوپیا (حبشه)	1104300	27	93877025	2

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موریتانیا	1030700	29	3437610	40
مصر	1001450	30	85294388	3
تانزانیا	947300	31	48261942	6
نایجیریا	923768	32	174507539	1
نامیبیا	824292	34	2182852	42
موزمبیق	799380	35	24096669	13
زمبیا	752618	39	14222233	22
جنوبي سودان	644329	42	11090104	29
سومالیا	637657	44	10251568	31
مرکزي افریقا (ج)	622984	45	5166510	36
بوتسوانا	581730	48	2127825	43
مدغاسکر	587041	47	22599098	15
کینیا	580367	49	44037656	7
کامرون	475440	54	20549221	17

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مراکش (المغرب)	446550	58	32649130	11
زېمبابوي	390757	61	13182908	24
کانګو (ج)	342000	64	4492689	38
د عاج ساحل	322463	69	22400835	14
بورکینا فاسو(پاسنی ولتا)	274200	75	17812961	19
ګابون	267667	77	1640286	41
صحرا (د ج)	266000	78	538811	53
ګیني	245857	79	11176026	26
ګانا	238533	83	25199609	12
یوګندا	241038	81	34758809	9
سنیګال	196722	88	13300410	23
تونس	163610	93	10835873	27
اریتریا	117600	101	6233682	37
ملاوي	118484	100	16777547	21

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بېنين (داهومي)	112622	102	9872292	30
لايبريا	111369	104	3969703	39
سيراليون	71740	119	5612685	35
توګو	56785	126	7154237	33
ګيني بيساو	36125	138	1660870	47
ليسوتو	30355	142	1936181	44
استوايي ګيني	28051	146	704001	45
بوروندي	27830	147	10888321	32
رواندا	26338	149	12012582	28
جيبوتي(عفار او عيسى)	23200	151	792198	50
سوازيلند	17364	159	1403362	49
ګمبيا	11295	167	1883051	46
کيپ وردي	4033	176	501046	54
کومورو	2235	180	752288	52

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موریشس	2040	181	1322238	48
ساوتومي او پرنسیپي	964	185	186817	56
سیشلز	455	199	90846	57

اخځ: www.cia.gov/library/public

د افریقا ناخپلواکه سیمې :

1– سنت هلینا او د هغه توابع Saint Helena and Dependencies:

د ټاپوګانو دغه ټولګی 384km² مساحت لري . دغه ټولګی درې ټاپوګان (او توابع) لري چې هر یو له بل څخه نژدې 1000km واټن لري .

د دغه ټولګي تر ټولو لوی ټاپو سنت هلینا نومېږي چې 122km² پراخه دی او په لویدیځه نیمه کره کې د افریقا لویدیځ (د انګولا لویدیځ) لور ته 1930km لیرې، د اتلانتیک د سمندر په زړه کې موقعیت لري . دا پخوانی اورغورځونکی ټاپو، په اتلانتیک کې د بیړۍ چلولو په څلور لاره کې پروت دی او بېړیو ته د سون د موادو د ورکولو اسانتیاوې لري . د دغه ټاپو لوړه څوکه د سمندر له سطحې څخه 818m جګه ده .

د سنت هلینا هوا په زړه پورې لنده او د کال د تودوخې منځنی درجه 25C° ثبت شوې ده . خلک یې تورپوستي (او لږ سپین) دي او پلازمېنه یې جمستون Jamestone نومېږي. دغه ټاپو پرتګالیانو په کال 1502 کې کشف کړی؛ خو د انګلستان د ختیځ هند د شرکت پوځونو په کال 1661 کې ونیو . ناپلیون بوناپارت له 21 – 1815 پورې دغه ټاپو ته تبعید شوی و .

د سنت هلینا د ټاپوګانو د ټولګي دوهم غټ ټاپو اسنسیون نومېږي . اسنسیون په لویدیځه نیمه کره، جنوبي نیمه کره کې د سنت هلینا له ټاپو څخه 1127km لیرې شمال لویدیځ لور ته پروت دی . 88km² پراخوالی لري او مرکزي ښار یې جورج تاون George Town دی. دغه ټاپو د افریقا او شمالي امریکا تر منځ د بېړیو د تګلاري د انشعاب په ځای کې پروت دی. اسنسیون په زړه پورې لنده هوا لري . د کال د تودوخې منځنی درجه 22c° ثبت شوې ده . دغه ټاپو په 1501 کې د پرتګالیانو له خوا کشف شوی دی . انګلستان له 1815 څخه را پدیخوا په دې ټاپو لاسبری دی چې د تریستان د اکوتها د ټاپو په ګډون له سنت هلینا څخه اداره کېږي. دلته د انګلستان یوه سمندري اډه او د امریکا د سپوږمکیو او هوایي بېړیو د کنترول او لارښونې مرکزونه په فعالیت بوخت دي .

د دغه ټولګي دریېم ټاپو تریستان داکوتا Tristan da Cuncha دی چې 174km² پراخه دي . دا ټاپو د افریقا او جنوبي امریکا تر منځ، د امید له څوکی څخه 2900km لیرې په لویدیځه نیمه کره، جنوبي نیمه کره کې د جنوبي اتلانتیک په سمندرګي موقعیت لري . د دغه ټاپو مرکزي ښار هرالدیوان Heraldyuan دی. د تریستان په شا او خوا کې دغه ټاپوګان هم په همدې ټاپو پورې اړه لري: ګوګ Gough - 75km²، اناکسي سبل Inaccessible – 10km² او نایتنګل Nightingale - 2km² (خپله د تریستان پراخوالی 87km² دی). د تریستان ټاپو په کال 1506 کې پرتګالیانو کشف کړی. انګلیسان له کال 1816 څخه راپدیخوا په دې ټاپوګانو لاسبری دی . په 1938 کې د تریستان اداره سنت هلینا ته وسپارل شوه .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسنسیون او تریستان ټاپوګان هم له اورغورځوونکو موادو څخه جوړ شوي او لوړه څوکه یې د سمندر له سطحې څخه 2060m جګه ده. د انګلستان تر ولکې لاندې دي او د هواپېژندنې او مترولوژي استیشنونه پکې کار کوي. د دغه ټاپوګانو رسمي ژبه انګلیسي ده او پوند سترلنګ پکې د فانوني پیسو په توګه چلېږي .

2 – ایفني Ifni: په افریقا کې د اسپانیا دا کوچنۍ مستعمره، د افریقا په شمال لویدیځه څنډه او د مراکش په جنوب لویدیځه برخه کې پرته ده. 1920km² مساحت لري او مرکز یې سدي افني Sidi Ifni نومېږي. ایفني سوق الجیشي ارځښت لري. ایفني وچ دښتي اقلیم لري او د کال په منځنۍ توګه 100mm درښت پکې کېږي . خلک یې عرب او بربر دي چې کوچیانی ژوند لري او څاروي ساتي .

3 – ریونیون : ختیځه نیمه کره. جنوبي نیمه کره. ریوینون (پخوا د بوربون ټاپو یا د بوناپارت ټاپو) د هند د سمندر په جنوب لویدیځ، د افریقا د لویې وچې په جنوب ختیځه خوا کې، د مدغاسکر د هېواد (ټاپو) په ختیځ 650km واټن کې موقعیت لري. د ریونیون ټاپو 2510km² پراخوالی لري او د مسکرین Mascaren د ټاپوګانو یوه برخه بلل کېږي. دا یو اورغورځوونکی غرنی ټاپو دی چې اوس هم ځیني فعالې څوکې لري. د ریونیون تر ټولو لوړه څوکه د سمندر له سطحې څخه 3069m جګه ده. هوا یې توده او لنده ده. په ریوینون کې ورښت ډېر دی. د دغه ټاپو 30% اوسېدونکی اروپایي او پاته تورپوستي افریقایي، هندي، مالایایي، ویتنامي او چینایي دي. د ریونیون 94% خلک مسیحي (کاتولیک) او په فرانسوي ژبه خبرې کوي . د دغه ټاپو مرکزي ښار سن دیني نومېږي. سن پل، سن پیر او سن لویي د ریونیون غټ ښارونه او بندرونه دي.

پرتګالیانو په 1502 کې دغه ټاپو وپېژاند او فرانسویانو په 1638م کې ونیو. په 1946 کې په ریونیون کې د مجرمینو څو لوی استوګنځی جوړ شول. لومړنی فرانسوي مهاجرین په 1662 کې په دغه سیمه کې چې هغه وخت بوربون نومیده، ځای په ځای شول. په 1793 کې د بوربون نوم په ریونیون واړول شو. له 15 – 1810 پورې دغه ټاپو د انګلستان لاس ته ورغی . له هغه وروسته بیا د فرانسې تر ولکې لاندې شو. په کال 1947 کې ریونیون له سمندرونو څخه د پورې غاړې فرانسوي ولایت په توګه له فرانسې سره یو ځای کړای شو. په 1948 کې په ریونیون کې مریېتوب منع او د دغه ټاپو خلکو ته د فرانسوي اتباعو حقوق ورکول شول .

4 – مایوت Mayitte: ختیځه نیمه کره، جنوبي نیمه کره . د مایوت ټاپو د افریقا په ختیځه خوا کې د مدغاسکر شمال ته، د کومورو جنوب ختیځ لور ته، د موزمبیق او مدغاسکر تر منځ د موزمبیق په تنګي کې (د هند سمندر) پروت او 373km² پراخه دی . هوا یې توده او لنده ده او اورغورځوونکی جوړښت لري. د مایوت اوسېدونکی تور افریقایان، عرب او مدغاسکریان او ډېر مسلمانان دي . دا خلک په فرانسوي، عربي او سواهیلي ژبو خبرې کوي .

له 16 پېړۍ څخه تر کال 1843 پورې مایوت یو خپلواکه عربي دولت درلود. په 1843 کې فرانسوي پوځونه په مایوت لاسبري شول. له هغې وروسته به دغه ټاپو کله له ریونیون، کله له کومورو او کله له مدغاسکر سره وتړل شو. په 1974 کې چې د کومورو خلکو د خپلې بشپړې خپلواکۍ له پاره رایه ورکړه، مایوت د کومورو هغه یوازنۍ ټاپو و، چې خلک یې له فرانسې سره په پاتې کېدلو خوشحاله وو. د کال 1976 په ټولپوښتنه کې هم د مایوت 99.41% خلکو د فرانسې سره د پیوستون په ګټه رایه ورکړه. سمدلاسه دغه ټاپو له سمندرونو څخه د پورې غاړې فرانسوي ولایت په توګه اداره کېږي.

5 – کاناري Canary: د ټاپوګانو دغه ټولګي چې له پنځو غټو او څو کوچنیو ټاپوګانو څخه جوړ شوی، د شمالي اتلانتیک په سمندر کې، د افریقا شمال لویدیځ لور ته، د مراکش او لویدیځې صحرا د هېوادونو لویدیځې خوا ته پروت دی. دغه ټولګي په سیمه کې په ستراتیژیک ارځښت سربېره د اروپا، افریقا او شمالي او جنوبي امریکا تر منځ د بېړیو د تګ راتګ د لارې او لارو د بېلتانه (انشعاب) د مرکز په توګه د پاملرنې وړ ځای لري .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې ټاپوګانو اوسني اوسېدونکی (نژادي 1.7 ملیون) د اعرابو، اسپانویانو او تورپوستو افریقایانو له ګډ نسل څخه دي چې په اسپانوي او عربي ژبو خبرې کوي .

ډېر پخوا فنیقیانو کاناری ته تګ راتګ درلود. په 15 پېړۍ اسپانویان په دې ټولګي لاسبري شول . دوی د دې ټاپوګانو ډېر اصلي اوسېدونګي چې بربري ګوانچ Guanch تورپوستي وو، وشړل یا ووژل . په 1927 کې د کاناري ټاپوګان له سمندرونو څخه د پورې غاړې په دوو اسپانوي ولایتونو وویشل شول: لومړی لاس پالماس Las palmas او دوهم سانتا کروز Sana Cruz. له کاناري څخه وروسته د دغه ټولګي دوه نور غټ ټاپوګان کاناریه Canaria او تنریف Tenerife نومېږي . دا ټولګي ټول 9937km² پراخه دی .

د ټاپوګانو د دغه ټولګي (مجمع الجزایر) ځمکه ښه حاصل ورکوي. ګني، وریجې، پنبه، غنم، تنباکو، مېوې او سابه د دغه ټاپوګانو د کرنې مهم محصولات دي. په دې ټاپوګانو کې د پسونو روزنې ښه وده کړې او هر کال ډېر کبان نیول کېږي. د تیلو چاڼ او د خوراکي موادو پروسس د دغه ټولګي په مهمو صنایعو کې حسابېږي . دغه ټاپوګان اوس هم د اسپانیا تر ولکه لاندې دي .

6 – مدیرا Madeira: لویدیځه نیمه کره، شمالي نیمه کره. دا ټاپوګان (مدیرا 740.5km² او پورتوسانتو - 32km² Porto Santo) د شمالي اتلانتیک په سمندر کې، د افریقا شمال لویدیځ (د مراکش لویدیځ) لور او د کاناري د ټاپوګانو د ټولګي شمال ته پراته دي .

د دغه غرنیو ټاپوګانو لوړه څوکه ریوو Ruivo د سمندر له سطحې څخه 1861m لوړه ده.

دغه ټاپوګان په 15 پېړۍ کې د پرتګالیانو لاس ته ورغلل. سمدلاسه په دغه ټاپوګانو کې چې نژدې 800000 اوسېدونکی لري، ډېر پرتګالیان اوسېږي . دوی د ښې هوا په وجه دلته روغتیایي حمامونه، سناتوریمونه او د سیلانیانو له پاره ګڼ شمېر هوټلونه او پارکونه جوړ کړي دي .

د مدیرا د ټاپوګانو د ټولګي ډېر خلک په کرنه بوخت دي . ګني، جوار، چای، کچالو، کېلې او نورې میوې او سابه د دغه ټاپوګانو د کرنې مهم محصولات دي. پسونه، وزې او باري څاروي دلته ډېر روزل کېږي. د مدیرا فابریکې د خوراکي موادو (بوره، شراب او نور څښاک، غوښه، مېوې او سابه) په پروسس لګیا دي. دغه ټاپوګان د پرتګال لخوا اداره کېږي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ